# الکترونیکی رسنی electronic media

## انټرنټ ( internet )

انټرنټ نړیوال کمپیوټری شبکه ده چې د زرګونو کوچنیو کمپیوټري شبکو درلودونکې دي، کوم چې د اتصال په منظور یو له بل سره انتخات شوی دی. دنړیوال ویب یا جال( world web wide ) ( www ) تعریف ځیني کمپیوټر پوهان داسې کوي:

)) نړیوال جال هغه ځای دی چې متن او تصویر پکې خوندي کیږي او دانټرنټ په مټ دغه متن او تصویر څوک لیدلی یا لوستلی شي.((

انټرنیټ یو مستقل شی نه دی، چې خاک دنړۍ د مختلفو سیمو څخه خپل سولګرونه ( computers ) ورته وصل کړي ، بلکې انټرنیټ په خپله د همدې کمپیوټرونو دوصلېدو په صورت کې تشکیل شوی ، چې هر معمولي کارونکي کولای شي دانټرنیټ د خدماتو څخه برخمن شي ، داخدمتونه کېدای شي په دغه لاندې ډول وي:

۱: دبرېښنالیک خدمات( e-mail )

۲: بنډار خوني ( chat rooms ) دمختلفو بحثونو لپاره

۳: پرلیکه بنډارونه ( chat )

۴: انټرنیټي لوبې ( games )

۵: دنړۍ د مختلفو منابعو څخه د مالوماتو لاس ته راوړل

۶: برېښنایي سوداګري ( e-commerce )

۷: دفیلمونو لیدل او د راډیویي کانالونو ته غوږ ایستل.

۸: دمختلفو دوتنو ( فایلونو ) رالېښل ( download )

Ketabton.com

9: پرلیکه زده کړې ( e-learning )

انټرنټ یو اځني خوبايي ( ښېوالی ) دادی چې په اسانه او ارزانه ډول په کم وخت کې معلومات تري ترلاسه کولی شو . او په مختلفو ډولونو د نړۍ له هری نقطې سره ارتباط ټینګه ولی شو . نن ورځ ډېر معموله طریقه د ارتباط لپاره دانټرنټ له لارې د ایمل ( e-mail ) یا الکترونیکي پوست پواسته د ارتباط ټینګول دي، په ملیونونو خلک په څو ثانیو کې خپل پیغامونه، تصویرونه لیږدوي. انټرنټ دلومړی ځل لپاره په ۱۹۸۰م کال کې د امریکا د کلفورنیا په پوهنتون کې د ساړه جنګ په دوران کې معرفي شو نن ورځ په ټوله نړۍ کې له هغې څخه استفاد کیږی.

امریکایانو چې په جنګ جهاني کې د روسانو څارونکې وو . ددغه څارني اود روسانو د احتمالی بریدونو لپار د نظامي اطلاعاتو د لاسته راوړلو لپاره دغه نظامي طرحه د رند ( rand ) د شرکت په غاړه وه دغه شرکت اعلان وکړ چې امریکا داسې یو سیستم ته ضرورت لري چې له مختلفو کړیو او هستو څخه بدون له مرکزیت څخه تشکیل شوي وي هغه پدی نه پوهیدل چې دنني انټرنټ د اساس او بنیاد اېښودونکی دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

انټرنټ یا شبکه په ۱۹۸۰م کال کې په نني مفهوم رامنځته شوه او اوس خلک کولی شی په د یجیټل کمپیوټري خط لوړو نړیوالو معلوماتو ته ور داخل شي. انټرنټ خاص مرکز نلری او په هیڅ سازمان پوری ندی تړلی. په حقیقت کې انټرنټ غیر مرکزي ارتباطي نظام دی مګر هره تشکیل شوی شبکه په یوه شرکت یا سازمان او دولت پوری اړه لري. چې په مستقل ډول اداره کیږی او اطلاعات په لویو کمپیوترو کې د server په نوم ذخیره کوی.

د انټرنټ په کارولو سره مونږ دنړی لیدلو ته نه ورځو بلکي دغه نړی ده چې موږ یې په نمایشي ډول مطالعه کو

## د یویشتمې پیړۍ ټولنیز ارتباطی وسیلې :

د ټولنیز ارتباط په برخه کې د یووشتمې پیړۍ لاسته راوړنې د انټرنټ یا هم نړیواله ارتباطي شبکه ده، وروسته له هغه چې د انسان په واسطه د فضا تسخیر، او نړیوالو قدرتونه یو پر بل د بریالتوب د لارو چارو پلټلو په هڅه کې شول، ترڅو د سوړ جنګ په اړوند بهترینې وسیلې تشخیص او د رامنځ ته کیدلو په لټه کې شول، بیله دې چې یو له بل سره د صلحې له لارې یو ځای شي. د ارتباط نوې ټولنیزو وسایل ددماغي ګډوډۍ او د ذهني تسخیر د پراختیا لامل د ټولې نړۍ پر مخ وګرځیدل. او یا هم د ټولنیز ارتباط نوی وسایل د ټولې نړۍ پرمخ د سرګمې د رامنځ ته کیدو او د پراختیا سبب وګرځیدل.

د دوهم نړیوال جنګ له پای ځخه وروسته لوی قدرتونه د تود جنګ نه جبران کیدونکو خطرونو ته متوجه شول، او د نړیوالو افکارو د جوړونې په اړوند پدې وپوهیدل چې د دوی لپاره تر ټولو ښه لار ارتباطي وسایل دي، د امریکا متحده ایالات وروسته لدې چې په دوهم نړیوال جنګ کې د شوروي متحد وو. د رقابت په ډګر کې ددې موضوع او ارزښت په درک سره د ( advanced research project agency ) یا هم ( arpaned په نوم سازمان ۱۹۲۹ کال کې ایجاد شو. د دغه سازمان دنده په لومړیو کې د زوروا کو قدرتو څارنه او د فضائي موضوعاتو په اړوند مطالعه وه، کله چې په ۱۹۸۰م کال کې فضائي څیړنې زور واخیست ټیم برنر زلي چې په ( w.e.b ) ونومول شو چې ددغه په پایله کې خلک اوس مهال کولی شې د یو کمپیوټر او تلیفون پواسطه د لیکې په لرلو سره د مشترکې ژبې ځخه په ګټه اخیستو د لیږدونې د پروتوکول ( transmission control protocol ) او انټرنیټ پروتوکول ( internet protocol ) له لارې دوی کولای شې د نړیوالو اطلاعاتو ډګر ته ورداخل شي، لدې ځخه په ګټه اخستو شیکاګو تریبون ( chicago online ) د لومړۍ نسخې په توګه الکترونیکې نسخه د ( وب ) پرمخ ولیږدوله. د تازه پیښو او اطلاعاتو ته د انعکاس ورکولو کولو د ټولنې په رامنځته کیدو سره د بیان آزادي د مدني ټولنو او د دولتونو په خصوصي برخو کې د دغه انقلاب په بهیر کې په ۲۰۰۳ د دسمبر له ۱۰ څخه ۱۲ د انټرنیټ د مدیرت، او د رسنیو د اداري اړوند ژور بحثونه رامنځته شول، پدې اړوند ځنې اصطلاحات چې د ( postmodern society ) یا پرمختللې ټولنه او ( knowledge society ) منځته راغلل د دغه ټولنې موخه او هدف نړی د اطلاعاتي ټولنې په نوم بد لول وو، نړی پیژندنه او له محدودیتونو څخه بهر کول ؤ، پدې اساس هیڅ څوک نشې کولی د پرمختګونه لړی محدوده او اطلاعات له خپل ځان سره وساتئ.

یونسکو په ۲۰۰۳م کال کې ( memory of the information ) کتاب کې یا سایبر ژورنالیزم کې دغه اطلاعات داسې ډلبندي کړل، چې له نومورې ډلبندۍ څخه یې هدف له هرګروپ څخه ملاتړ او حمایه کول ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ -: د ارتباطات او ديالوگ وسايل: چې د مستقيم ( نيغ په نيغه ) راکړه ورکړه او ګډون کونکو ته بيلا بيل والۍ ورکوی، او په يو وخت کې د تعامل ( ګډون ) لامل ګرځی.

۲ -: د اطلاع موندنې سامان آلات as a tool for finding information

د اطلاعاتو د موندنې ترټولو آسانه او بهترينې لارې، د ډيناميک مرکزونو سره په ارتباط کې د ماشينونو او نورو وسايلو په واسطه څيړنې ترسره او د پيښو په اړوند د لومړنی معلوماتو تر لاسه شي،

۳ -: د الکترونيکي نشراتو نوی عامل، as a new vehicle for electronic publishing

په ټوليزه توګه په ځينو مواردو کې په خوښ کړای شويو ځايونو کې رواجي طريقې سره د محتوا او منځپانګې چې د الکترونيکې نشراتو يوا ځنۍ عامل انټرنټ دي.

۴ -: د رسنيو تر منځ تجارتې او صنعتي وضعي اړوند څرګندونې او د معلوماتو خپرول. as a tool for commercial distribution and intermediation پدې سره د محصولاتو د عرضه کونکو یاهم د پلورنکو ترمنځ اړيکې رامنځته کيږي.

۵ -: د په زړه پوری او ښو ويناوو او د تفريحي مطالبو څرګندونه.

as a tool for binding about

د متنونو ګرځنده او ثابتو انځورونو ، او د ليدلو او اوريدلو وړ توليداتو په اړوند د يو مطلب د نوی والۍ او په زړه پورې والۍ په موخه چې د افکارو جوړونکې دي.

انټر نيټ په ټولو هيوادونو کې تر ټولو آسان ترينه او آرزان ترينه وسيله ده، چې د هيوادونو د د ځواکمنتيا او رغولو په چارو کې ترې استفاده کيږي، انټرنيټ د الکترونيکي زده کړو دروازې پرانستې چې په دې برخه کې مهم او په زړه پورې ګټل کيږي، الکترونيکي دولت د انټرنيټ په مرسته رامنځته کيږی، او د انټرنيټ په مرسته شفافيت او پراختيا مومي، همدارنګه د اداري فساد په وړاندې د مبارزې د بډې ( رشوت ) د لمنځه وړلو په برخه کې امکانات برابروي.

په واقعيت کې د ځو کلونو راهيسې وبلاګونه په کار وړل کيږي، او د امريکا متحده ايالاتو په ۲۰۰۴م کال کې د رياستې جمهوری په انتخاباتو کې الکترونيکې رسنيو په زړه پورې ونډه لرله، پدې وخت کې د جورج واشنګټن د پوهنتون د ارتباطاتو پرفيسور د ( البرت مي ) پدې عقيده ؤ چې د ۲۰۰۴ کال کې د انتخاباتو وبلاګونه د انتخاباتو اړوند ؤ،

د امريکا متحده ايالات د ۲۰۰۸م کال د انتخاباتو د پراختيا يوا ځنۍ عامل ويديو بلاګينګ دي چې کانديد کسانو هڅه کوله ترڅو د انټرنټ له لاري خپلې خبرې او پيغامونه خپاره کړي، همدارنګه د انځورونو ، او ويديوګانو په خپراوی او د کانديد اشخاصو د د ويناوو ، نظرونو او د هغوی د تصويرونو په خپرولو کې ئې مرسته کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پیو تحقیقاتي مرکز د لاسته راوړنو په اړه داسې راځي چې انټرنټ او (آنلاین) رسنۍ د امریکا د سیاست په برخه کې یو محوري رول ترسره کوي، د مثال په ډول کابو نیمایي امریکایان او یا د امریکې او سیدونکې خبرونه او د ریاست جمهوری د انتخاباتو سیالۍ د آنلاین رسنیو له لاري تعقیبوي، د تحقیقاتي مطالعې د مرکز د څیړنې په اساس ۱۷٪ د لوړ عمر لرونکي امریکایان وائي، چې هره ورځ د سیاسی وبسایټونو پلټنه کوي، لنډ پیغامونه او انتخاباتي او تبلیغاتي ایملونه مطالعه کوي.

د امریکایي مسؤولینو په وینا یو شمیر امریکایان چې اړوند مسایل یې د انټرنټ له لاري تعقیبول د ۲۰۰۴م کال په پرتله په ۲۰۰۲ کال کې دوه براره شول، د دي مطالعې په اساس ۲۲۵۱ کسان تر څیړنې لاندي نیول شوي ؤ، د ریاست جمهوري د انتخاباتو کاندیدانو د دغه هیواد په اندازه له انټرنټ څخه کټه پورته کوله، آنلاین ویدیویي سایټونه په مثال د یو تیوب او ټولنیزه شبکې په مثال د فیسبوک د مهمو رسنیو په قطار کې یو له بله په ۲۰۰۸ کې راڅرګند شول، د پیو د مؤسسې د لاسته راوړنو په اساس ۳۵٪ امریکایان سیاسي ویدیو ګاني ګوري، همدارنګه ۱۰٪ ټولنیزې شبکې د اطلاعاتو د لاسته راوړلو په موخ کاروي او پدي برخه کې تري کار اخلي،

جف جارویس چې د امریکا د (سیټي) د پوهنتون استاد دي د امریکا په وروستیو انتخاباتو کې د (جان مک کین) د ناکامي لامل په آنلاین رسنیو کې د تبلیغاتي خپرونو د کیفت او د هغه د معیار ټیټوالی ښودلی، په حقیقت کې په انټرنیټ سره تبلیغات باید ددغې رسنۍ د ارزښت او د ګټه اخیستونکو او کارکونکو د روحیې سره سم جوړ شي تر څو د مخاطبینو د توجو د جذب او زړه راښکون په موخه د کاندیدانو پیغامونه په ښه ډول ولیږدوي.

## الکترونیکي خپروني:

د کتنمبرک په واسطه د چاپ د متحرک ماشین په کشف سره مطبوعاتو ته په نړۍ کې د اطلاعاتو د ښې رسوني په سبب د جمعي یا ټولنیزي کلیمې د استعمال ویاړ وربه برخه شو، مګر دغه مقام چاپي رسنیو د څو پیړیو په طي کولو سره خپل کړ، تردې چې په بازارونو کې د چاپي رسنیو د غه انحصار د رادیو او تلویزون په منځته راتګ سره یو څه کمزوری شو. د مطبوعاتو صنعت په امریکا کې له ۱۹۲۰م کال څخه وروسته د لوستونکو له کمښت سره مخامخ شو. د نوموړي جریان د تغیر لپاره ډیرې معمولي د پرمختګ لارې چارې په کار واچول شوي، دغه صنعت د کیفیت په لحاظ له ښه والي څخه علاوه د لیکنیۍ رسنۍ د رنګه عکسونو د چاپ د خبري ګرافیکونو څخه استفاده د معیاري لی اوټ کارونه او همدارنګه د لنډو خبري رپوټونو له کاروني څخه استفاده او د نورو مؤثرو طریقو په کار اچونه لکه زړه راښکونکي عنوانونه.

د ۱۹۸۰م کال له لومړیو څخه د الکترونیکي نسخو کارونه پیل شوه. د دغه کال په لومړیو کې د تکس د ویدیو کارونه چې اوس له منځه تللې استفاده کیده. څرنګه چې انټرنټ ۲۸ کاله مخکې په کار پیل وکړ. مګر تر ۱۹۹۳م کاله پدي ونه توانیدل چې د ناشرانو موافق نظر له یو مناسب ستیج څخه ځان ته راجلب کړي. د ۱۹۸۹م د مه د ۲۷ څخه د (ادیتوراند پا بلیشر اکتیو) مؤسس د ۲۸۵۹ سایټونو یو فهرست جوړ کړ، چې عمومي ورځپاڼې او اونیزی پکې شاملې وي؛ په نړۍ کې یې خپور کړ، چې ۱۷۴۹ له هغې څخه د امریکا په متحده ایالاتو کې خپریدل. مطبوعاتو له انټرنیټ څخه د یوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

محافظتي او آسانه نشريدونکې وسيلې په توګه چې تبليغاتي پيغامونه يې په ښه شکل استقبال او نشر کړل کار واخيست،

دری سره ترلی رسنيزی بڼې:

ددی لپاره چی د سايبرفضاکی دشته نورو رسنيزو بڼو پر ځرګندتيا وپوهيږو ، دلته يې په لنډ ډول څيړو .

## برښنايي رسنی: electronic media

د الکټرانيک يا بريښنايي رسنيو کليمه تر انټرنيټ مخکی يوازی راډيو او تلويزون ته کاريده، خو دانټرنيټ به منځ ته راتګ سره بيا هم ويب او وبلاګونه ته همدغه برښنايي يا الکټرانيک کليمه وکاريده، په برښنايي رسنيو کی ټولی هغه رسنيزی وسيلی راځي ،چی له بريښنا سره سراو کار لري .

## ډيجيټل رسنی : digital media

ډيجيټل رسنی د ( صفر او يو ) شيمرې رسنيو ته ويل کيږي، چی دصفر او يو په چوکاټ کی خپل معلومات وړاندی کوی، دبيلګی په ډول راډيو او تلويزون برښنايي رسنی دی خو که توکی يا خبری منځپانګه يی په صفر او يو ( ډيسکيټ، سی دی، يافلش ) بدل شی، ډيجيټل بڼه غوره کوی.

ډيجيټل رسنی له صفر اويو څخه اخوا خپل سری عمل نشی کولای، او که چيری دعمل اړتيا پيښيږی، يوه بله خوځنده وسيله به يی عامل ګرځی، لکه کمپيوتر ،انترنيټ ،راديو ،ټلويزون اوداسی نور.

د ډيجيټل او انلاين رسنيو ترمنځ توپير دادی؛ چی ډيجيټل په وسايلو کی خوندی وی، او پر انترنيټ کې نه وی پرليکه شوی، خو انلاين بيا پخپله په انټرنيټ کی موجود وی، ډيجيټل رسنی هغه مهال پر ليکه يا انلاين ګڼل کيږی، چی پر ويب راجوتی شی. لکه دورځپاڼی ( پی ډی ايف ) نسخه.

## سايبر رسنی: cyber media

د cyber کلمه د cybernetic د کليمې يوه برخه ده، چې د لومړي ځل لپاره په ۱۹۴۸م کال د اړيکو يو کارپوه ناربرت وينز وکاروله ، cybernetic د لاتيني ژبې د gubernetic له ريښې څخه اخيستل شوې، چې د لارښوني او قوماندې لپاره کاريده. cybernetic د مطالعې او پوهې معنې ورکوې، خو تر ډيره د سايبر د کليمې اطلاق په انټرنټي فضا او پر هغه څه باندې اطلاق کيږې، چې پر دغه فضا کې موجود وي.

سايبررسنی دانترنيت په نړی کې دشته والی له امله انلاين او ډيجيټل دواړه بڼی لری، يانی هم انلاين ورته ويلای شو،ا و هم ډيجيټل، سايبر د انسان او ډيجيټل ماشينونه له ترکيبه زږيږي، اوځورسنيزی بڼی درلودای شی، په سايبرخبريالی کی د کس اوکارکوونکی هڅی بيا دصفرپرلوري پرمخ ځي، او د سيستم هڅې بيا د سلو پر لوري ځي، دبيلګی په توګه، که موږ په انټرنيټی پلټونکو ماشينونو کی يو څيزغواړو ، سيسټم موږته په زرګونو اړوند توکی راوړی، له دغو توکو نه ديوه ياڅو په غوراوی کی موږ خپلواک يو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

په سايبير فضا کی فلټرنګ بشپړنه وی، ځکه که خبری سايت فلټرکيږی انټرنيټی نسخه يی پاتی کيږی، اوخلک يی په اسانی سره موندلی شی.

## الکترونيکي ورځپاڼه:

الکترون ی کي ورځپاڼي هغه آزادی رسنۍ دي چي له زماني او مکاني محدوديتونو څخه آزادي وی. دتلګراف هغه پخوانی سيستم چي دتلګراف په واسطه به ليکونه ليږل کيدل، له منځه لاړ او ځای يي انترنټ ونيولو . په انټرنټ کي د معلوماتو د لوستلو لپاره يوکس کولی شي چي څه شي، څه وخت او په څه طريقه يوه ليکنه ولولي. آن لاين ژورناليزم کولی شو چي نن ورځ له اخبار، راديو، تلويزون څخه چي ۲۴ ساعته خپرونی کوي، لوړ او د خپرونو په لحاظ بهتره وګڼو.

د الکترونيکي ورځپاڼو اړښت:

د الکترونيکي ورځپاڼو ليکنه د ژورناليستانو لپاره نسبتا نوي مفهوم دي، په خبري اطاقونو او له خبرنګارانو سره د کمپيوټر موجوديت، بيل خصوص په اوسني عصر کي د دريم نسل له نوي تکنالوژی ) ) g3 څخه استفاده د تلکس دستګاوي او د حروف چينۍ لپاره له کمپيوټرونو څخه استفاده او يا هم د حروف چنۍ لپاره د ليتوګرافۍ د نويو او عصري سيستمونو کارول، د او سني عصر لپاره تر ټولو نوی موضوعات دي، مګر د نړۍ په کچه د ورځپاڼه ليکني په برخه کي نوی ندي، موږ اوس هم د نړۍ په څير له دغه ظرفيتونو سره آشنا نه يو، يو څه انګيزه او د ابتدايي معلوماتو څرک يي تر موږ را رسيدلی، په کامل ډول مو له هغي څخه استفاده نده کړي.

په اطلاع رسونه کي سرعت تر ټولو مهم ترين عنصر دي چي په الکترونيکي ورځپاڼه ليکنه کي د چاپيدونکو ورځپاڼو په نسبت په الکترونيکي ورځپاڼه ليکنه کي تر ډيره د عمل بڼه ورکړل شوي، نن ورځ اوريدونکي تر ټولو تازه معلوماتو د ترلاسه کولو په هڅه کي دي، کيدای شي الکترونيکي رسنۍ اوريدونکي په ژوندي بڼه په سيل بينو تبديل کړي.

په نړيواله کچه لويي تلويزوني شبکي په ژوندي بڼه د خپرونو په خپرولو سره د اطلاعاتو همدي شکل ته ميلان کوي، په ننني عصر کي د اطلاعاتو همدي پراخوالی او نوی والی الکترونيکي ورځپاڼو ته په خوځنده ډول په قوت ورکولو او پراخوالي کي مهم رول لري. له هغه ځايه چي د خبر رسوني پرمختللي ټولني له بيلابيلو منابعو څخه د اطلاعاتو په لاسته راوړلو کي يو له بل سره په رقابت کي دي، له همدي امله دغه ټولني د اطلاعاتو په لاسته راوړلو کي له نويو طريقو د تکنالوژۍ څخه استفاده کوي. او په نويو اسانه او سريعترينو طريقو سره اطلاعات تر خپلو اوريدونکو رسوي، که چيري دوی په دي ونه توانيږي چي د اطلاعاتو په رسولو کي د وخت له نويو او ديجيتل طريقو څخه کار واخلي په دغو سياليو کي به شاته پاتي وي. پدي سبب له ديجيتل ورځپاڼه ليکنو سره اشنايي لازمي او ضروري ده.

دا چي الکترونيکي ورځپاڼه ليکنه په يوه نوی او ټولنيزه پديده تبديله شوي، پدي لحاظ څو مهمي نقطي ضروري دي چي له هغه څخه بايد غفلت ونکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ دیجیتل ورځپاڼه لیکنه یوائې شکل دی محتوا نده ځینې کسان پدې فکر کې دي چې نویو ورځپاڼه لیکنو ته لاس رسی د ارتباطاتو اهدافو ته لاس رسی دی، حال دا چې نوموړي مسئلې یو له بله زیاته فاصله لري، یوازي نوی تکنالوژي ته لاس رسی نشي کولای چې د ځوان نسل ځانګړتیا یا فکري پوهه په هغې باندې اتکا وکړي، او د ورځپاڼه لیکنې له طریقو څخه یې بې نیازه کړي. صرف نوی تکنالوژۍ نشي کولای چې دغه نسل له نویو موضوعاتو، او اخلاقي او حقوقي ملاحظاتو، په ژورنالیستي ژبه تسلط او د رپوټ لیکنې د تکنیکونو له کشف څخه ژورنالیستان بې خبره کړي.

۲ د ورځپاڼه لیکنې پخوانۍ نسل هم نشي کولای چې د تکنالوژي دغه مدرن او نوی سیستم ته شا کړي، د دغه نسل لپاره ډیره د افسوس خبره ده چې خپلې لاسته راوړنې د نوی تکنالوژی له مخاطبانو نه دریغوی، دوی بایدې د خپل ځان او دیجیتل ټولنو ترمنځ د ورځپاڼه لیکونکي د دوهم نسل په څیر د پله حیثت غوره کړي.

۳ د ورځپاڼه لیکنې لومړی او دوهم نسل باید په دغه نویې تکنالوژي کې ورک نشي له دغه نویې تکنالوژی څخه باید یوائې د یو پول په صفت کار واخلي، یا په بله معنی دغه نوی تکنالوژی د خپلو افکارو او نظریاتو د لیږدولو د یوي وسیلي په توګه وکاروي.

۴ د دیجیتل ورځپاڼه لیکنې تر ټولو مطلوب حالت دادی چې په هغه کې نوی مفاهیم او مطالب په اطلاع رسونه کې را پیدا او د عمیق پیغام په شکل کې نوی والې رامنځته شي، تر څو له بیلا بیلو منابعو سره ارتباط پراخه شي. او د کرکتني درک ته په کتو سره د ورځپاڼه لیکنې ښه موقف ترلاسه کړ.

نن د اطلاعاتو په خپرولو او لاسته راوړلو کې تر ټولو لوي پرمختګ رامنځته شوی، تر دې چې د اطلاع رسوني یا د اطلاعاتو لاسته راوړنه د پراخوالي په لحاظ تر اسمانه رسیدلي، د ځمکې له هري نقطي څخه د انټرنیټ صفحي ته په داخلیدو سره د اطلاعاتو د لاسته راوړلو اړتیا پوره شوه، نن ورځ انټرنټ مونږ ته دا توان رابښلی چې جهان له یو کوچني مستطیل سره مقایسه کړو چې په موز کې اچول شوی.

## د اینټرنټي خپرونو ځانګړ تیاوې:

د انټرنیټي خپرنو ځنې ځانګړ تیاوی په لاندې ډول دي.

۱ -: څرنګه چې د وخت په لحاظ د انټرنیټ پرصفحه مطالب او خبرونه لنډ وي لنډ مطالب په ښه ډول د خلکو د توجو وړ ګرځي.

۲ -: آزاد محیطي ستیجونه دا ایجادوي چي له هغه څخه خلک یو له بل سره په بنډار راولي، او دغه رسنیو ته تازه جوړښت ورپه بر خه کړي.

۳ -: الکترونیکي ټولنه یوائې د یو ډیر سریع او تیز تیریدونکې موج په څیر ده، چې د مسؤلیت د اداکولو تر ټولو ښه وسیله ده.

۴ په دغو آزادو ستیجونو کې خپریدونکي احساسات نشي کولای چې ژورنالیستي تعبیرونه او د لیکنې مهارتونه څرګند کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵ په الکترونيکي نشراتو کې داسې غير واقعي مطالب هم وجود لري چې بايد پرې پوه شو او خاتمه ورکړل شي، او د لوستونکو د ضرورتونو مطابق داسې پرمعنا صوتي او تصويري منځپانګه لوستونکو ته وړاندې کړو چې د خلکو د توجو سبب وګرځي. د چاپي نشراتو په پرتله الکترونيکي نشرات هرڅه بايد په موفقيت او په بهتره ډول زياتو فني مهارتونو ته ضرورت لري. مګر واقعيت دادی چې ترټولو او چټ خپرونکي د انټرنيټ په شبکه کې له خاصو تحقيقاتو څخه وروسته خپلو ګرافيکو او مورو ته په پراخوالي ورکولو کې د هغه په محدوديت خبرې کوي. يو شخص د انټرنټ په شبکه کې د يو مطلب په خپرولو سره ناشر جوړيږي، مګر واقعي کار له دغه مقام څخه ګټه اخيستل دي.

## د الکترونيکي ورځپاڼو بهير ته لنډه کتنه :

د الکترونيکي ورځپاڼو تعداد ورځ په ورځ پراخوالی مومي، هغه رپوټ چې په ۱۹۹۲م کال کې خپور شو ( هارپر ) اعلان وکړ چې ٪۷۷ ورځپاڼې دا اراده لري، چې له چاپي خپرونو سربيره، دوی بايد الکترونيکي نسخه هم نشر ته وسپاري، څرنګه چې د دغو ورځپاڼو تعداد په امريکا کې فوق العاده زيات دی. مګر د هغې توسعه له امريکا څخه بهر هم تر سترګو کيږي، هغه رپوټ چې په ( مربر ) پورې تړاو لري په سلو کې ۴۳ ټولې اينټرنتي ورځپاڼې له امريکا څخه بهر دي، دا په داسې حال کې چې دغه نتيجه لدې څخه يو کال مخکې په سلو کې ۲۹ وه، دغه نوی او تازه طريقه د خبر ليږدولو چې په ډير دقيق ډول په همغه سرعت له انټرنيټي کانال څخه د هغه په کومک خبر ليږدول کيږي، او د رشد په حالت کې ده، الکترونيکي ورځپاڼه هغه نشريه ده چې د وب په شبکه کې د اسانه لاس رسي وړ ده، د کمپيوټر په ژبه له ټولو خبري ګرافيکونو سره د متن ارائه د کمپيوټر له صفحې څخه په استفاده ليدلی شو .

الکترونيکي ورځپاڼه کيدای شي چې د چاپي ورځپاڼو يوه مجازی نسخه وي، او يا په مکمل ډول هغې ته ورتوالی ولري، د انټرنټي ورځپاڼو ځينې برخې يوازې په انټرنټ کې موجودې وی، د انټرنټي ورځپاڼو د ماهيت ( اصلوالي ) د درک لپاره د رسنيو له غنايي نظريې څخه کار اخيستل کيږي، د رسنيو غنايي نظريه د ځلورو ځانګړتياوو درلودونکې ده، مناسب سرعت، د منبع شخصي ماهيت او غنايي او د کارونکې د ژبې بيلابيل والی، معمولا ټولنيزې رسنۍ تخصصي ضرورتونو ته اړنه دي، که څه هم د رسنيو ځينې برخې د ويش په لحاظ د ځينو کوچنيو برخو درلودونکې دي؛ چې تخصصي مطالب خپروي، مګر ځينې وخت ډير تخصصي وي، لکه تخصصي مجلې چې په تخصصي ډول خپلو خپرونو ته دوام ورکوي، مګر نومړې مجلې هم په تنهايي سره نشي کولی چې د يوې لويې ټولنې غوښتنو ته ځواب ووايي، دغه کار معمولا ځينې وخت په ورځپاڼو کې هم صدق کوي. که څه هم ځينې تحقيقي ورځپاڼې د ورزشي او تفريحي اطلاعاتو په خپرولو پورې محدودې وي، مګر نشي کولی د ورزش يا سرګرمۍ د خاصو ډولو په خپرولو تمکز وکړي، د دغو کوششونو محدود دول ممکن د يوی رسنۍ کلي ماهيت له منځه يوسي، لدې ټولو سره سره په يوه انټرنټي ورځپاڼه کې کيدای شي هغه محدوديتونه چې د فضا له نظره موجود وي له منځه يوسي، په همدې دليل زياتو اطلاعاتو ته لاس رسۍ چې خلک کولای شي د خپلو غوښتنو مطابق مطالب پکې انتخاب کړي، د خبرونو او اطلاعاتو، خبري سرويسونه چې د خلکو د غوښتنو او سليقو مطابق په مختلفو ډولو طبقه بندي شوي؛ او له

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیلا بیلو منابعو څخه تنظیم شوي وي، دغه ورځپاڼې پخپله د دي توان لري چې په هغې کې یو لوستونکی د خپلی خوښې مطالب په آسانه ډول ولولي.

د رسنیو بله غنايې عبارت ده د جملو له اغیزمنتیا او غیر اغیزمنتیا څخه چې جملي څومره اغیزمنې دي، ځرنګه چې په چاپي رسنیو کې د جملو ساده والی اغیزمنتیا او د لنډو ساده جملو کارول حتمي او ضروري چاره ده، که چیرې په الکترونیکي ورځپاڼو کې زموږ لیکنی ژبه ساده او روانه نه وي، کلمي مو پیچلي او یا ډیرې نوي وي، لوستونکي یوا ځې د موز په کلیک سره زموږ ورځپاڼه پریږدي، او نورو سایټونو ته داخلیږي، په همدي سبب غنايې د کلام په الکترونیکې ورځپاڼو کې زیات د توجو وړ خبره ده

## نړیوا له شبکه: word wide web

که چیرې تاسې یو کمپیوتر او مودیم ولرئ، په ډیره اساني سره کولی شې د تلفوني شبکو له لاري اینټرنټ او وروسته له شبکې سره وصل شې، وروسته د خپل هدف لپاره په انترنټ کې پلټنه وکړئ، دغه ځانګړی سافتویر ( نرم افزار ) دی چې تاسې ته د دې امکان برابروي؛ ترڅو په نړیوا له شبکه کې تاسې سره راغونډ کړي، ترڅو د خپل نظر وړ منځپانګې ته لاس رسی پیدا کړئ، او تاسې مجبور یې چې د اینټرنټې خدمتونه د برابرولو لپاره د ips ( انټرنیټ پالنوال ) له سیستم سره متصل شې، او یوه اطلاعاتي فضا ستاسې لپاره براره کړي، هغه څه چې باید ستاسې لپاره برابر شي، هغه تاسې باید لومړی په نظر کې ونیسئ، ( د هغه انتخاب کول دي ) ، ځکه هغه څه چې تاسې غواړئ ویې لولې، د هغه په باره کې اطلاعات د انټرنټ په شبکه کې موجود دي، د شبکې اطلاعات په انترنټي تارنماوی ( سایټونه یا ایمیلونه ) کې ساتل کیږي، په اوسني وخت کې په میلیونونو تارنماوی د انټرنټ په شبکه کې وجود لري، چې د بې شماره سازمانونو او اشخاصو پوسیله جوړیږی، او کوربه توب یې کوي، د نموني په ډول:

۱ -: خبري سازمانونه، ورځپاڼې، تلویزون او خبري آژانسونه.

۲ -: تجارتي سازمانونه ( د کارخانو خاوندان د خرید او فروش په باره کي او مالي سرویسونه ) .

۳ -: ملي او محلي سازمانونه.

۴ -: د فشار ګروپونه چې غواړي په سیاسي، اجتماعي او مذهبي لحاظ تغیراتو رامنځته کړي.

۵ -: هغه سازمانونه چې هدف یې مالي لاسته راوړني نه وي. لکه خیریه مؤسسات.

۶ -: په میلیونونو نور کسان له نړیوالي شبکې څخه په نړیوا له ژبه د خپلي ذهني، مذهبي، او عقیدوي آرزوګانو لپاره استفاده کوي.

## د ویب ( نړیوال جال ) پیژندنه:

د ۱۹۸۰ لسیزې په لومړیو کی ( دټیم برنرزلي ) په نامه یو تن فزیک پوه؛ داورپا داټومی څیړنو په مرکز ( سرن ) کی د کمپیوټرونو د خپلمنځی ښلونی پراختیا وړاندی کړه، اوویې ویل چې په راتلونکی کی کیدای شي په

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی ټوګه دفزیک ټولو اړوندو فایلونو او معلوماتو ته لاسرسی ومومی، په ۱۹۸۸کال کې د خپاره شوي متن لپاره پرګرام خپور شو او د ۱۹۸۹کال په مارچ کی برنرزلی او رابرت کایلیایو یوه بله پروژه پیل کړه، چې د کمپیوټری شبکی له لاری یی خواره متنونه چمتو کول، دغه پروژه د )) ویب غنې جال (( نومیده. دا حقیقت کی په بیلابیلا برخو کی دفزیک پوهانو ترمنځ داړیکو ټینګښت په موخه پیل شوی وه، دویب شبکه د ۱۹۹۱کال په می میاشت کی دویب په نامه خپره او پر ۱۹۹۳کال ټولو خلکو ته وروپیژندل شوه. ویب نړیواله شبکه په انټرتیټ کی دخبر رسونی یوه نوی او په همدغه ترځ کی اغیزناکه لاره ده، پوهانو دویب د ودی او پرمختګ ترټولو ستر لاملونه درنګه ګرافیکی انځورونو فلم، غږ او متنونو د پراخ وړاندیز وړتیا بولی.

## ویب د انترنټ یوه برخه:

دنړی په ګوټ ګوټ کی دکمپیوټر ډیر کارکوونکی له ویب سره سرو کار لری، په دغه لامل ډیری رسنۍ او کمپیوتری کارکوونکی ویب او انټرنیټ څیز ګڼې، خو ویب دانټرنیټ دستری نړی یوازی یوه برخه ده په انټرنیټ کی ftp.telnet او نور څیزونه او کیبلونه دکمپیوټرونه او په خپله دشبکی تارونه هم راځی.

د انټرنیټ ځانګړی ترون http نومیږی، چی په انټرنیټ کی دویب کارونی اسانتیاوی برابروی، د انټرنیټ ترټولو ستره موخه داده. چی کارکوونکی دنورو په کمپیوټرونو کی له زیرمه شویو توکو ګټه واخلی ftp.telnet او نور ټول د خدمت وړاندی کوونکو servers کی راځی، دویب او ftp ترمنځ یواځی توپیر د http په پوستکالی کی دی، ویب servers او ویب ایکسپلورر له http نه په ګټه اخستنی سره خپلمنځی اړیکی تینګوی، او دویب توکی ، چی په html ژبه لیکل شوی، سره تبادله کوی html دویب نړیواله ژبه ګڼل کیږی. چی دهغه پر بنسټ دویب ټولی چاری سمبالیږی .

## ورځپاڼه او نړیوال جال: ( internet )

په نړیوال جال کې به هیڅ داسې د حساب وړ ورځپاڼه نوي، چې ویبپاڼه ونه لري، د امریکا د ورځپاڼو ټولنې ( naa ) د سروې له مخې په نړی کې نږدې ۵۷ میلیونه وګړي، د ورځپاڼو له ویبپاڼو کار اخلي. د نیویارک ټایمز امریکایې ورځپاڼې د آنلاین لوستونکو شمیر تر چاپي اوښتی. ځکه اوس یې د پوښښ کچه د امریکا د لویې وچې پرځای تر ټولې نړۍ رسیږي. خو آیا د لوستونکو په یو دغسې ستر شمیر سره د دغو ورځپاڼو اقتصادي وضعه ښه شوی ده؟

دا ډیره سخته پوښتنه ده، ځکه ځواب یې بشپړه څیړنه غواړي. خو د یادو شوو ورځپاڼو د چلونکو په وینا د دوی د چوپړ چارې وړیا بڼه لري. او عایداتي سرچنې ( خرڅلا او اشتهارونه یې خورا کمزوري دي. )

ګڼ شمېر ورځپاڼې په آنلاین نړۍ کې یوه ټکلاره خپله کړې ده، دغه ورځپاڼه بیړني خبرونه له پید اینټ سره سم خپروي. د ګارډین آنلاین چلونکې الن راسبریجر وایي: ( دا ناشوني ده چي چاپي نسخي ته منتظر پاتي شو . ) ګڼې نوري داسې بیلګې شته چې د چاپي او انلاین رسنیو دوه اړخیز اغیز رابښیي. په اسپانیا کې د ( and ) په نامه ورځپاڼې خپله مازدیګرنۍ ( adn2 ) ورځپاڼه هم را ایستلې ده. چي ډیرې د مسافرو لپاره ځانګړې شوي. د ( and2 ) موخه داده چي مساپرو کورونو ته ترسیدا او انټرنیټ په کتو مخکې ښکاره کړي، او

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلې ګڼې پرې وپلوري. ( له ويب نه تر چاپه ) ستراتژي بيا په چاپي نسخه کې د اينټرنيټي نسخې په کاريدنه ټينګار کوي، lass ultimas noticias ورځپاڼه خپله انلاين نسخه په چاپي کې هم خپروی په جرمنی کی rheinische post ورځپاڼه د opinio په نامه سره يوه بله چاپی نسخه خپروي، چې د آنلاين او چاپي نسخې ګډوله ګڼل کيږي، داهم شونې ده، چې د آن لاين او چاپي رسنيو خبر خونی هم سره يو ځای شي، او په ګډه کاروګړي. دغه راز د ورځپاڼو کچه هم ورو ورو وړه کيږي، په فرانسه جرمني او دلته افغانستان کې د ټابلوييد کچې ورځ په ورځ خورا ډيرې شوې دي، د کچې وړوکوالی د لوستونکو لپاره په لوسته او مطالعه کې مرسته کوي، او که په موټرو کې يې هم لولي، نورو ته به يې مزاحمت نه کيږي، osterreich او london paper له پيله لا په کوچنۍ کچه خپريږي، مګرې ډير خپرندويان په دې لټه کې دي، چې د خپلو ورځپاڼو بڼه د مجلو په څير کړي.

په دوديزه خبريالۍ کې لوستونکي ورځپاڼې ته پر ليکونو بسنه کوي، که ليکوالان وې ورځپاڼې ته له لاسري پرته خپلي ليکنې استوي، دغه مسئله په دريمه نړۍ کې، په ځانګړي توګه افغانستان کې خورا ډيره تر سټګو کيږي. په آن لاين ورځپاڼو کې بيا لوستونکي پر بريښناليک بسنه نه کوي. هغوی د رسنيو يا ورځپاڼو له څښتنانو غواړي چې دوی ته بلاګونه جوړ کړي، او خپلي ليکنې د همدغه بلاګونو له لارې خپرې کړي، همدا اوس د نړۍ ټولې مشهورې ورځپاڼې، لکه ګارډين تلګراف دغسې بي بي سي آن لاين په پښتو کې ټول افغان، وربل او ځينې نورې ويبپاڼې خپلو لوستونکو ته د بلاګونو آسانتياوې ورکوي، او په ځينې مواردو کې داهم په ډاګه شوي چې تر سايټونو د بلاګونو ليدونکي ډير دي.

## د سياليو نوی بڼه:

همدا وس په نړی کی تر ۱۳۲ پوری ورځپاڼې د ۵۰ ميليونو په شاوخوا کی ګڼې وړيا ويشی، دوی خپلی ګڼې په وړيا ډول دهر کور په وره کی ږدی. دا د سترو ورځپاڼو ننګونه ده او دوی بايد د سيالی ډګر ته راووځی. يو شمير ورځپاڼو دکچې د کموالی او د ورځپاڼې وړيا ويش ته په پاملرنی سره ځانګړی پارکيزو خپرونو ته لاس واچوو . د بيلګی په ډول په فرانسه کی play bac press ورځپاڼه د ماشومانو لپاره د دوی د بيلابلو عمرونو په پام نيونی سره څلور ورځپاڼې خپروی، دغه څلور ورځپاڼې، (le petit mon quotidien ) (quoti), (quoidien ) او ( l actu شاوخوا 200 زره ګڼې خپروی، د امريکا د کارولينا ايالت په بلافټن کی blufftion today هم د سياليو روان بهير ته په پاملرنی سره ديوی وړی ټولنی لپاره له انټرنيټی مطالبو سره مل خپرونی پيل کړی.

په لويديځ کی ورځپاڼې په دی لټه کی دی چی د انلاين رسنيو له پراختيا او ودی سره يو ځای خپلی پيښې ټينګې وساتی او داسی لاری چاری ولټوی. چی له نوی خبريالی سره پری سيالی وکړای شی.

## بازارموندنه: marketing

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ورځپاڼې تر ټولو ستر مالي بنسټ د اشتهارونو جوړول دي. د نړۍ تر ټولو مهمې ورځپاڼې په دې لټه کې دي. چې څه ډول بازار ومومي ،د ورخپاڼې له لوګو نه رانیولې. ترو ړیا فزیکي اشتهارونو پوره هر څه د بازار موندنې او د لوستونکو د راښکون په موخه کیږي.

ډیرې ورځپاڼې د خپل اشتهار په موخه له راډیو ،تلویزون او پوسترونو کار اخلي په دې توګه هم لوستونکي مومي او هم د اشتهاروالو پام وراړوي.

له چاپ تر انټرنیټه سبک بدلون مومي؟

د خبریالۍ یو شمیر کار پوهان په دې باور دي؛ چې په چاپي او انلاین رسنیو کې د سبک د بدلون مساله دومره مطرح نده، ځکه سبک او لیکنۍ تګ لارې ډیر د پیښې په څرګندتیا پورې اړه لري. د بیلګې په توګه د کورنیو چارو په وزارت برید کیږي؛ او رسنۍ د شته سیالیو له مخې، همدارنګه د چټکتیا له مخې ژوندي ساتې، خو دلته سر چپه هرم یا د سخت خبر سبک تر بل هغه غوره کار ورکوي. ځکه خبریال د فچیرې او نرمې خبریالۍ اړتیا او فرصت دواړه نه مومي، دغسې تودې پیښې تاوده خبرونه او چټک خبري سبکونه غواړي، دا که په انلاین رسنیو کې وي او که په چاپي کې، دغه راز که د آن لاین رسنیو خبري متنونه، لیډونه ،سرلیکونه او د انځورلیکونو برخې وڅیړل شي، له چاپي خپرونو سره ئې دومره توپیر نه تر سترګو کیږي، دغه ثابته پاتې کیدنه دا په اثبات رسوي، چې تیوریکې مسایل لا پر خپل ځای ټینګ ولاړ دي او دا وسایل او تیکنالوژي ده، چې د خبریالۍ بڼې ته بدلون ورکوي.

## د الکترونیکي ورځپاڼو ماهیت: the core journalism

که چیرې موږ یو خبري اطاق ته داخل شو، او یو د هغه له کارکونکو سره خبرې اترې وکړو، کیدای شي چې هغه راته وواېي، چې ورځپاڼه لیکنه د يو ړنده چې باید تدریس شي، دا خبره واضح ده، کیدای شي یو څوک له یوه مجرب او ماهر ورځپاڼه لیکونکي سره د ورځپاڼي لیکنې په کار پیل وکړي، له یو څه وخت عملي کار څخه وروسته ښه ورځپاڼه لیکنه زده کړي، مګر د ورځپاڼې لیکنې واقعي ځانګړتیا چې هغه د خبریال استعداد او د خبرې مطالبو د ترلاسه کولو ښه ذوق دی، ذاتي ندي، ترڅو هر خبریال یې باید لومړی ولري، کیدای شي دغه ځانګړنه په یو کس کې له ازل څخه موجوده وي، او یا نوی موجوده، یو ښه مسلکي ژورنالیست باید له عملي ابتکار او مهارت سره حساس وي، چې کیداي شي نوموړې چاره له هغه څخه ډیره سخته او زیاتې هوښیارۍ او پوهې ته ضرورت ولري، کوم چې موږ ئې په نظر کې لرو او قابل د احترام وي.

البته دا خبره درسته ده چې کیدای شي ځینې کسان د طبعي استعداد خاوندان وي، ترڅو د ورځپاڼه لیکنې په جریان کي د ورځپاڼې د مهمو عناصرو ، لکه: له بیګانه خلکو څخه د شخصي پوښتنې کولو وړتیا ، په ډیره هوښیارۍ سره د خپلې پوهې او ذکاوت ښکاره کول، بې شکه نوموړې هغه کسان دي چې په ورځپاڼه لیکنه کي له نورو څخه ډیر ښه ماهر وي، ډیر پوه، د پیاوړي او ښه استعداد واله تحقیق کونکي، رپوټ لیکونکي، د پلان او طرحې جوړونکي او لیکوالان ډیر ښه وي، مګر پدې معنې نه چې زیات خلک د ورځپاڼه لیکنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځانګړتیاوو ته لاس رسی نلري، یا ورځپاڼه لیکونکي ندي، کیدای شي دغه جوهر په یو چا کې ذاتي وجود ولري، ځکه دغه ځانګړي علم او پوهه ده چې لاسته راوړنکی یې باید له ځانګړو استادانو څخه لاسته راوړي.

څرنګه چې په نړۍ کې آنلاین (الکترونیک) د دې امکانات برابر کړي، چې هره ورځ په میلیونونه انسانان کولای شي په یوه (وب) کې تحقیق او پلټنه وکړي، او نشرات وړاندې کړي، لکه څرنګه چې په دې برخه کې یادونه وشوه، چې پخوانۍ لاسته راوړني لکه د خبر پیژندنه او د پیښو په اړه د اطلاعاتو لاسته راوړل، د خبرونو ارائه او وړاندې کولو زده کړه، پدې لحاظ ویلی شو چې ورځپاڼه لیکنه د زدکړې وړ ده.

## د ورځپاڼه لیکنې د جریان ماهیت او ارزښت: the core journalistic process

څرنګه چې ورځپاڼه لیکنه هغه جریان دی چې د مقرراتو، جوړښتونو او د نتایجو درلودونکي ده، د ورځپاڼه لیکنې دغه ارزښت ته په کتو نو موږ، بهیر باید یو وچ او بې روحه جریان نوي، ترڅو د استعداد او تخیل د له منځه تلو سبب ونه ګرځي، مګر دغه جریان د ورځپاڼه لیکنې د ځینو جوړنکو اجزاوو څخه دي، ورځپاڼه لیکنه د څلورو مراحلو درلودنکې ده،

۱: د اطلاع او خبر موندنه، تشخیص او لاسته راړل چې د لوستونکو د علاقمندۍ او جذابیت سبب ګرځي.

۲: د دغو ټولو لازمو او ضروري موضوعاتو وړاندې تهیه او ترتیبول.

۳: له نوموړو ټولو موضوعاتو څخه د مهمو او خبری موضوعاتو انتخابول.

۴: د دغو مؤثر ترینو موضوعاتو نشر ته سپارل.

په مطبوعاتو، رادیو او تلویزون کې د ورځپاڼې لیکنې چارې له دغه پرله پسې والي او مراحلو څخه پیروي کوي، ترڅو ټول مطالب د یوې مجموعې تر عنوان لاندې له هغه وقایعو څخه چې په یو ځای د وړاندې کولو وړ وي نشر شي، لکه څرنګه چې موږ وینو آن لاین ورځپاڼه لیکنی متفاوتې دي، څرنګه چې (وب) یو غیر خطي (نه چاپیدونکي) رسنۍ ده چې لوستونکې کولای شي، هغه څه چې دوی ته په زړه پوری وي انتخاب او نور لری کړي، پدې سربیره لکه څرنګه چې مخکې یادونه وشوه دغه څلور مراحل په آن لاین کې هم په کار وړل کیږي، دغه څلور مراحل د الکترونیکي ورځپاڼه لیکنې د خبري عناصرو په ترکیب محتوا، نظم او ترکیب کې مهم رول لري، او همدارنګه د الکترونیکي ورځپاڼه لیکنې د منځپانګې په نشر او خپریدو کې مهم رول لري.

## الکترونیکي پست: e-email

ایمیل دژورنالست لپاره د رپوټ یا خبر ورکولو په برخه کې ډیري تیزي څرګندوني دي. ایمیل د ژورنالستانو لپاره هغه وسیله ده چې د هغه پواسطه په نړیواله کچه معلوماتو ته لاس رسی پیدا کوي. دغه ورځپاڼې او سنیو چاپي او برقي رسنیو ته په کتو سره زیات ورتوالی لري. هغه وخت چې متحرک ګرافیکونه او آواز لرونکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

آهنګونه په الکترونیکی ورځپاڼوکې له عکسونو سره اضافه شي. الکترونیکي رسنۍ په ژوندی او هیجانه انګیزه بلوي.

له انټرنټ څخه استفاده کونکي په ۱۳۷۹ کال کې له ۴۰ څخه تر ۵۰ میلیونو خلکو رسیدلی، مګر د وخت په تیریدو سره د خلکو له الکترونیکي ورځپاڼو سره زیاته مینه پیدا شوه او زیاتو خلکو ورته مراجعه وکړه. دالکترونیکي ورځپاڼو په مینوالو کې په پراخه کچه زیاتوالی راغي. څو کاله وروسته ددي احتمال شته چې الکترونیکي رسنۍ داوسینو رسنیو ځای ونیسي.

د اینټرنټ پواسطه کولی شو چې د اشخاصو یا ډلو ترمنځ د ایمل له لاري مطالب یا لیکنۍ متن او یا هم اسناد تباله کړو ، اکثره د اینټرنټ وړاندې کونکي سرویسونه د ips اینټرنټ ته د لاس رسي له لاري د ایمل پواسطه خپل منځي ارتباطات تهینګ کړی، زیاتره کارکونکي د الکترونیکي پوست له لاري خپل کارونه سرته رسوي، مګر شبکه او الکترونیکې پست دوه متفاوت سیستمونه دي، تاسې کولای شی چې له ایمیل څخه استفاده وکړی بدون لدې چې شبکې ته لاس رسی ولري.

الکترونیکي پوسټ د څو ځانګړو خاصیتونو درلودونکې دی.

۱ سرعت -: تاسي کولای شی خپل پیغام ولیکی او په ډیره چټکي سره یې د خپل هدف لور ته ولیږدوي، دغه سرعت ډیر سریع او کله هم نستا سریع وی چې د ارتباط د برقراری په وخت پورې ارتباط لري.

۲ هدف ته په بیړه رسیدل -: دغه موضوع نړیواله یا کیدای شي شخصی وي، له نړیوالو کرکټرونو سره خبري اتري په الکترونیکي پوست کې د بدلون یا اوښتون قابلیت، تاسي کولای شی د الکترونیکي پوست پواسطه د ښوطرحو د په زړه پوري مطالبو څرګندونکي شی چې دغه مطالب د ایمیل پواسطه لیږدول کیږي.

## دانټرنیټ پاڼو دآدرسونو دجوړیدو عناصر

هره انټرنیټ پاڼه ځان ته یوبېل آدرس لري ، چې یودبل سره بېلوي، دبېلګې په ډول ستاسو پام ودې لاندي آدرس ته رااړوم.

۱۲۳۴

com.breshna.www//:http

۱ -: -http:دویب پاڼو د خلاصولو لپاره یو پروټوکول ( تړون ) دی ، چې دهمدې تړون په وسیله ویوه لټوونې ( browser ) ته ویل کیږي ، چې په څه او څنګه یوه پاڼه خلاصه کړي.

۲ -: -www:ددې ښودنه کوي ، کومه ویب پاڼه چې تاسو خلاصوئ ، هغه نړیواله ویب پاڼه ده ، یعني نوموړې پاڼه انټرنیټ ته په وصل شویو سرورونو کې ځای په ځای شوې ده.

۳ -: دربیمه برخه -: دویب پاڼې نوم دی، لکه بېنوا ، ټول افغان، پوهندوست ، مورچل او داسې نور ...

۴ -: ددې ښودنه کوي، کومه ویب پاڼه چې تاسو خلاصوئ هغه په یوه تجارتي محدودې پورې اړه پیدا کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې هکله ستاسو پام و دې لاندې لنبتیلیک ( جدول ) ته را اړوو .

یوه ویب پاڼه ، کېدای سي دغه لاندي روستاړي ( suffix ) ولري.

وروستاړی بشپړ ویی ( لغت )

com commercial

org organization

net network

tv television

gov government.

edu education

mil military

af afghanistan

دو همه برخه

## وبلاگ weblog

د انټرنیټ په مټ یو شمیر امکانات ، وسایل او خدمتونه، د مینوالو په واک او لاس کې ورکول کیږي، د انټرنیټ تر ټولو یوه په زړه پوري ځانګړتیا داده؛ چې د خدمت په موخه د مینه والو لپاره ددې توان په واک کې ورکوي ترڅو له مخاطب کس سره یو له بله نیغ په نیغه په خبرو او د خپل فکر او نظر په شریکولو کې یو له بله معلومات شریک کړي.

هرڅوک کولی شي د انترنټ په مټ خپله پوه او تجربه د نورو کسانو په اختیار کې ورکړي، او په ټولنه کې خپل ځان او شخصیت د شبکه یې ټولنې د غړو په توګه مطرح او وړاندې کړي، د ارتباط داسي لارې چارې چې هرڅوک وکولای شي خپل مطالب او نظریات او یا فکري پوهه تر نورو په تر ټولو آسانه او بدون له کوم محدودیت ځخه ورسوي. ایا د داسې وسایلو د استعمالولو مینوال یاست؟

آیا د یوې شخصي ورځپاڼې په لرلو سره خوښ یاست چې پدې سره وکولای شئ خپل د خوښې وړ مطالب د موضوع اړوند د غوښتني سره سم روښانه کړی؟

په څو ورستیو کلونو کې بشریت په نوي نړۍ کې قدمونه ایښې چې بغیر له شک څخه تر ټولو مهمترینه لاسته راوړنه د ارتباط او اطلاعاتو اومعلوماتو له خپرولو سره په تړاو د وبلاګ د منځته راتګ موضوع ده، نن ورځ موږ د دغه پرمختګ شاهدان یو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځيني پدې عقيده دي چې اولين وبلاګ د ( ټيم برنرزلي ) په واسطه د ( info.cern.http ) په نوم جوړ شو ، دوهم وبلاګ د ( mare andreessen ) په واسطه په ( ncsa ) کې رامنځته شو . چې پدې کې هم د برنرزلي په شان کارونه ترسره کيدل.

د۱۹۹۲م نه تر ۱۹۹۷م کلونه چې هغه د وب د انفجار په نوم يادېږي؛ څو نور وبلاګونه هم منځته راغلل، له لومړنيو وبلاګونو څخه کولای شو د ( winer daver ) اړوند اخبار seripting د وبلاګ( barger ) او ( cameron barret ) وبلاګو ته اشاره وکړو . دلومړنيو وبلاګونو د منځپانګې په اړه ويلای شو چې په لومړنيو وبلاګونو کې داسې لينګون او توضيحات شامل وو چې هغه د لوستونکو له غوښتنې سره سم ؤ . پدې بهير کې وبلاګ ليکونکې د دې غوښتونکې شول تر څو په وبلاګونو کې داسې مطالب ځای پر ځای کړي چې په راتلونکې کې هم د خلکو د ميل او غوښتنو وړ وي.

## دوبلاګونو پراختيا يا عمومي کيدل

لومړني وبلاګونه اکثره د وب او نرم افزاره طرحه کونکو لخوا چې يو جانبه فعاليتونه وو ؛ په شخصي توګه په کورونو کې رامنځته شول. ددوی ارتباطي منځته راتګ دهغوی د ايجادونکو په توان پوری تړلی وو ، چې په هغه وخت کې يو په بل پسې مطرح شول. په لومړيو کې د وبلاګونو تعداد ډير محدود وو ، چې په ۱۹۹۹م کال کې په دغه لاره کې دڅو وړيا او په ټيټ بيه د وبلاګونو په منځته راتګ سره په دغه لړی کې ډير لوی پرمختګ راغی.

د وبلاګ يا وبلاګ نويسی شمير تر ۲۰۰۰م کاله له ۱۰۰۰ څخه زيات وبلاګونه جوړ شول، او دغه تعداد د ۲۰۰۲ کال تر نيمايي پوري له نيم مليون څخه هم زيات شو . داوسني جوړښت په اساس د وبلاګونو تعداد د وبلاګ ليکني په سيستم کې له سلو زرو څخه زيات دي، په هرو څلويښتو ثانيو کې يو نوی وبلاګ رامنځته کيږي. په وبلاګ کې يو مهم تحول هغه د وبلاګ بدليدل دي په يوي داسي رسني چې د هغي پوا سطه په مختلفو موضوعاتو باندې دهغه د ليکونکو ترمنځ محاوري ( خبري اتري ) کيږي، په همدی ترتيب هغه لوستونکي چې علاقه لری ترڅو په دغه بحثونو کې برخه واخلي، د موضوع په اړه د لومړنيو معلوماتو څخه علاوه کولی شي خپل نظر هم دموضوع په اړه څرګند او يا دخپل وبلاګ په جوړولو سره په نومو ړی موضوع کې له خپل ليد لوري څخه مباحثي او معلومات خپاره کړي.

د پورتني وضعيت په نظر کي نيولو سره کولای شو په ظاهري ډول د ارتباط په ډول په يوه وخت کې د څو نفرو ترمنځ نظريات او معلومات تبادله شي، چې تر اوسه په مختلفو ډولونو لکه( newsgroups ) خبري ګروپونه يا ( mailing ) دخطونو يا پيغامونو ليستونه جوړ شوي دي. لدي سره په تړاو يو اساسي توپير وجود لري، هغه داچې وړاندي شوي نظرونه په متعلقه فضا کې دوبلاګ تآليفونکی ته ليږل کيږي، هر وخت په مستقيم ډول خبري نشي کولي، بلکې هغه خپلي خبري وبلاګ ته په کتو سره مشاهده کولی شي. يو له هغه تحولاتو څخه چې د وبلاګ د رشد او انکشاف سره رامنځته شو ؛ هغه د وبلاګونو مطالعه ده نورو وبلاګ ليکونکو څخه چې د blogrolling په نامه د پديدي د رامځته کيدو سبب شو blogrlling ( د وبلاګ يوه برخه چې د هغه سايټونو د ليست لپاره چې وبلاګ ليکونکي هغه په منظم ډول او هميشه مطالعه کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جوړښت په ډول له هغه وبلاګ سره يو ځای کيږي د غه برخه عموما په ښي او يا چپ طرف کي په يوه صفحه کې جوړه شوي وي. ) د دغه ليک له ډيرو جالبو ځانګړتياوو څخه د وبلاګونو ترمنځ د ارتباطي جامعي ( شبکې ) رامنځته کيدل دي.

## وبلاګ په افغانستان کې

وبلاګ په افغانستان کي نسبتا يوه نوی پديده ده، په افغانستان کې د وبلاګ شاليد ته په کتو ويلی شو چې د سپټمبر له يولسمي څخه پيل کيږي. لومړی وبلاګ ليکونکی د افغانستان په داخل کې عزيزالله حکيمي دی، چې په يوه خارجي موسسه کې ئی کار کولو ، لومړی وبلاګ يې په افغانستان کې په ۱۳۸۱ه ش کال کې د کنګاش په نامه جوړ کړ، په افغانستان کې هغه وخت وبلاګ يوه نوی پديده وه، يوازې خارجي موسساتو په کابل کې انټرنټ ته لاس رسي درلود ، مګر په ۱۳۸۳ ه ش کال کې بی شماره وبلاګونه د افغانستان د وبلاګ فهرست ته ورزيات شول، چې ۳۰۰ ته يې تعداد ورسيد ؛ په ۱۳۸۰ ه ش کال کې نه يوازې په افغانستان کې بلکې په ټوله نړۍ کې اوج ته ورسيد ، په داخل د افغانستان کې هم افغان وبلاګ ليکونکو وبلاک ته مخ راوګرځولو ، مګر دا هغه کسان وو چې په خارجي موسساتو او سازمانونو کې په کار لګيا وو . په اوسني وخت کې په افغانستان د وبلاګ ليکونکو قانون جوړ شو چې په افغانستان کې د وبلاګ ليکونکو له مشروع حقوقو څخه دفاع کوي.

## د وبلاګ ځني ځانګړتياوي:

۱ د وبلاګ سبک او طريقي عموما شخصي، غيري رسمي او خپلواک دي. له دي وريا نشراتو څخه په استفاده هر څوک کولای شې د اطلاعاتو او پيغامونو په نشرولو په انټرنټ کې اقدام وکړي.

۲ څرنګه چې وبلاګونه د کيفيت، محتوا او اهدافو له لحاظه مختلف ډولونه لري، په همدي لحاظ هريو کولای شي د خاصو لوستونکو درلودونکي وي.

۳ څرنګه چې وبلاګونه په ۹۰ لسيزه کې مطرح شول او په ډير سرعت سره يې پرمختګ او په همغه وخت کې يې په نشراتو پيل وکړ، لکه blogger.com پدی لاره کې بيلابيل وبلاګونه رامنځته شول. مثلا : هغه وبلاګونه چې د خاطراتو آنلاين دفترچه يعني د ليکونکو د روزمره فعاليتونو او تجربو انعکاس کونکې دي، خصوصې وبلاګون يوازې د هغه توضيحاتو درلودنکې دي؛ چې له ځيني موضوعاتو سره لينګ ولري.

اکثره وبلاګونه د متنونو درلودونکې وي. مګر ځينی داسی وبلاګونه هم موجود دي چې له متن څخه علاوه له نورو اطلاعاتي موادو لکه صوت، تصويرونه اونورو ويديويي کليفتونو څخه هم استفاده کوي. تصويری بلاګونه ( photo blog ) ، ويدويي بلاګونه ( videoblog ) ، صوتي بلاګونه ( audioblog ) .

۴ يو وبلاګ هغو اطلاعاتو ته اشاره کوي. چې وبلاګ جوړونکو له نورو وبلاګونو سره په لينګ کې له هغي سره تقسيم بندی کړی وي، ترڅو په اسانی سره استفاده کونکي له هغي څخه استفاده وکړي، د وبلاګ لوستونکې کولی شي له هغي برخې د وبلاګ څخه استفاده وکړي چې هغه ته په زړه پوری وي، ديوه وبلاګ د

(c) ketabton.com: The Digital Library

مطالعي په وخت کې لوستونکي کولی شي په بیلابیلو لومړنیو تفاوتونو سره مطالعه وکړي. لکه زماني (د وخت او تاریخ په اساس مطالعه. ) ، د موضوع په اساس ( د خاصو لغتونو د پلټنې په اساس ) . زیاتره وبلاګونه په یو blog roll کې شامل وي؛ چې د هغه لینکونو په لیست کې شامل وي چې د وبلاګ جوړونکو لخوا پشنهاد شوي وي. اکثره وبلاګونو دغه فرصت خپلو لوستونکو ته برابر کړی دی؛ ترڅو لوستونکي خپل نظر د موضوع په اړه په سایټ کې څرګند کړي.

۵ - یوه جالبه نقطه له وبلاګ سره په تړاو هغه د وبلاګ سادګي ده په وبلاګ کی یوه اصلي صفحه له نورو صفحاتو سر په تړاو د ارتباطي مشاهدی لپاره ځانګړي شوي وي. ددغه سایټ لپاره د scro سبک جوړ شوی، چې لسګونه صفحي له هغي سره تړاو لري. اکثره وبلاګونه دغه جوړښت لری.

۲ وبلاګ معمولا عمومي حالت لري مطالب په عمومي ډول د لوستونکو خدمت ته وړاندي کوي.

- موجوده امکانات په وبلاګ کې معمولا په څو مؤلفینو پوری تړاو لري. - په خپاره شوو امکاناتو کې په یوه وبلاګ کې له یو عاقلانه فکر څخه پیروي کیږي؛ مثلا کله چې د یو وبلاګ مؤلف د یو مناسب لینک پیدا کوي؛ کولای شي له هغي سره د میلان په صورت کې هغه معرفي کړي.

۷ - یو وبلاګ د مضامینو دلومړیتوب اود خاص زماني نظم په اساس رهبری کیږي ( د وبلاګ په لومړیو صفحو کې نوي مطالب وروسته نور زاړه مطالب نشرکیږي ) ۸ - په اوسني وخت کې مختلف وبلاګونه دژوند په بیلابیلو برخو کې لکه سیاسي، حقوقي، اجتماعي، فرهنګي، علمي او په نورو مواردو کې موجود دي. ۹ - د وبلاګونو ایجادول دټولني په یوه خاص قشر پوری ندي تړلي بلکي دټولني مختلفی طبقی کولای شی وبلاګونه رامنځته کړي. ۱۰ - کیدای شي داسي سوال مطرح شی چې ولي وبلاګونه دومره مشهور دي؟ د سافتویرو یو جوړونکي پدي اړه وايي ( زه پدی فکریم چې هغه څه چې یوڅوک یي په ذهن کې راګرځوی په دنیا کې شاید د ویلو موقع ورنکړل شي اویا د خپلو عقایدو دڅرګند ولو لپاره امکان پیدا نکړي مګر پوهیږي چې شاید وبلاګ ددي لپاره بهترینه وسیله وي ).

۱۱ - وبلاګونه په بیلابلو برخو کې په یوه ورځ کې زرګونه لوستونکي لري بیلابل لوستونکي مختلف موضوعات چې د ده دعلاقي وړ وی د ورځپاڼو څخه مخکې لولي. ۱۲ - ځیني وبلاګوونه صرف د یوه شخص څخه کنترولیږي، مګر ځیني نور د یوه ګروپ څخه کنترولیږي.

۱۳ - وبلاګونه د ورځپاڼو اومجلو په نسبت دزیاتو مراتبو درلودونکي دي اویو تعداد وبلاګونه د ( ستاسو نظر وړنقطی ) د یوی برخي درلودونکي دي چې لوستونکي کولی شي وړاندي شوی نظر مطالعه او د نورو لوستونکو په څیر خپل نظر په نوموړي موضوع کې بیان کړي. د پورتني ځانګړتیا په نظر کې نیولو سره د خپل نظرد وړاندي کولو څخه علاوه له څو ساعتونو څخه وروسته بیا هم کولای شې له خپله فکره نور معلومات هم د نوموړي موضوع سره په تړاو وړاندی کړي.

## ویبلاګ لیکنه چادود کړه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوبلاګ لیکنې دبنسټګرو په اړه خوا لږ معلومات ورکړل شوی دی، دالاروښانه نه ده؛ چې لومړنی مخکښ څوک و، خو د دی رسنیزی وسیلې شمیر ورځ تر بلې پراختیا او وده مومي او د هغه ارزښت او اغیزی راښیي.

همدا اوس په نړۍ کې دوبیلاګونو شمیر تر لس ۱۰میلیونه اوړي،

ډیوونی ز، جورن بارګر او جاسټن هل هغه دری کسان دی چی د وبیلاګ په دود تیا او وده کی یی رغنده رول لوبولی دی، ډیری د وبیلاګ لیکوالان؛ همدوی د وبیلاګ لیکنې پلورنه ګڼي، وینز په ۱۹۹۷کال کی د ویبپاڼو دجوړلو ټګلاری او د متنی خبرونو د اوډون چاری را وایستی هغه په نړیجال کی ترټولو دزاړه وبلاګ څښتن دی.

ونیز په پیل کی دوبیلاګ دکشف په اړه څه نه ویل ،خووروسته هرڅه په ډاګه شول، بارګر دخبریالانو په وړاندی وویل: چی د وبیلاګ له لومړنیو کاروونکو شمیرل کیږی؛ هغه په ۱۹۹۹کال robot wisdom.com ویبپاڼه راوایسته اوبیلابیل توکی یی پکې پرلیکه کړل، د ده په وینا ، وینز د وبیلاګ لیکوال نه دی، ځکه زمانی اوډون ته یی پام نه کاوه وینز په پیل کی ویبپاڼو ته news pages یا د خبر پاڼې کلیمه کارولې وه، خو دا چی سایټونه یوازی په خبرونو پوری منحصر نه وو ) ) وبیلاګ (( یاد شول او ملګری یی ټول د انټرنیټ کارکوونکی په همدغه نامه یادوی ( جاسټین هل ) کله هم د ادعا نه ده کړی چی دی لومړنی بلاګ لیکوال دی.

په پښتو کی وبیلاګ لیکنه له بهره راغله، په پیل کی یو شمیر بهرنیو ویبپاڼو دا اسانتیا برابره کړی وه، خو وروسته د وربل، ټول افغان د بلاګونه په څیر پاڼو هم دغه نوښت ته لاس واچاوه.

په پښتو کی دلومړۍ وبیلاګ جوړونی ویاړ وربل سایت ته پاتی کیږی، خوورسته دغه لړی وغځیده او اوس په نړیجال کی په زرګونو پښتو وبیلاګونه دی.

## الکترونیکي ورځپاڼه:

د بلاګونو په اړه ترسره شوی څیړنې ښیي؛ چې دانټرنیټ په فضا کی تر پنځومیلیونو پوری وبیلاګونه او شاوخوا دری میلیونه د فیسبوک پاڼې دی؛ چی دانټرنیټ کاروونکو څو سلنه برخه جوړوی، دغه بلاګونه د انګلیسی په ګډون په ۱۰ ژبو کی دی چی دپښتو برخه پکې ډیره خواره ده، وبیلاګ چلوونکی ډیری دویبپاڼو مسلکی او نامسلکی لوستونکی دی چی د وخت په تیریدو سره له اړوندو ویبپاڼو ځانګړی وبیلاګونه غواړی
.

## ایا وبیلاګ لیکنه خبریالی ده؟

دخبریالی ډیری کارپوهان وبیلاګ لیکنه خبریالی نه ګڼې دلته دوه لاملونه دخبری سرچینی په توګه دبلاګ منلو پر وړاندی خنډ جوړیږی:

شخصي والی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویبلاګونه دلیکوال یا ویبلاګ چلوونکی شخصی مال دی، او هرڅه ته پکی له یوی شخصی زاویی کتل کیږی په ویبلاګ کی ډیر لږ پر خبری مسایلو تمرکز کیږی، په داسی حال کی چی د شخصی بوختیا وو او مسلکی توکو برخه یی تر نورو هغو درنده ده.

## کم باوری

ویبلاګونه دخبر ښې سرچینی نه دی؛ ویبلاګونه ته خلک د شخصی کتابچو په توګه ګوری، نه یوه خبري وسیله؛ په همدغه لامل د ویبلاګونو دخبری توکو ( خبرونه ،رپوټونه او داسی نور ) د اعتبا رکچه هم خوراټیټه ده؛ ډیر لږ به داسی کسان و موندل شی چی پر ویبلاګ دیوی ښې خبری سرچینی په توګه باور وکړی، دغه راز تر سره شوی څیړنی هم دا ښیی چی لوستونکی ویبلاګونو ته دخبرونو لپاره نه ځی، بلکی له خبرونو نه دیوه متفاوت څیز په لټه کی بلاګونو ته سرښکاره کوی، د دی موضوع یو شمیرکسان بیا ویبلاګ رسنی او ویبلاګ لیکنه خبریالی ګڼی، ددوی په اند ویبلاګ دیوی نوی انټرنیټی انلاین وسیلی په توګه خپل ځانګړی مخا طبان لری، او ویبلاګونه هم کولای شی دویبپاڼو په څیر ښې خبری سرچینی وګرځی.

دغه ډله ویبلاګ لیکنه دنرمی خبریالی یوه برخه بولی په نرمه خبریالی یانرم خبر کی ډیری دپیښی شا څمکه او تر پیښی وروسته مسایل را سپړل کیږی؛ ځکه خو د ویبلاګ لیکنه هم په دغه کتارکی راولی، ددوی په وینا په نرمو خبرونو کی فیچری او شخصی توکی ډیروی او بلاګ لیکنه هم دا ځانګړنی لری، دا ډله په دی باورده چی ویبلاګ به په راتلونکی کې غوره رسنیزه وسیله وی.

دغه ادعا تریوه بریده دمنلووړهم ده، ځکه همدا اوس په نړی کی تر څو میلونو پوری کسان ویبلاګونه لری، په میلونونو ویبپاڼې دی، په همدی کچه ورځپاڼې، راډیو ګانی او ټلویزونونه د ی؛ چی دا ټول په خپل وارسره خبریالی تر کس پوری محدودوی؛ یانی داسی وخت هم راتلونکی دی چی هرکس یوه رسنی ولری؛ داکه ویبپاڼه ده ویبلاګ دی اویا تردی بله ساده او بی لګښتی احتمالی رسنیزه وسیله ده.

ویبلاګ د انلاین رسنیو دیوی برخی په توګه په خبری ډګر کی له ویبپاڼو سره ورته ښه لری، یانی په ویبپاڼو کی ډیری ځانګړنی، آرونه او معیارونه سره ورته دی دلته یوازی هغه ټکی یادول غواړو چی دویبلاګ دبری اوراښکون لپاره اړین دی.

## په ویبلاګ کی څه وکړو او څه ونه کړو ؟

ژورنالیستان چی کله انلاین نړی ته ننوځی ډیر له دودیزی خیریالی نه په اغیزه عمل کوی، د دی لپاره چی انټرنیټی فضا کی خپل ځای او موقعیت وپیژنی د انلاین رسنیو پر ځانګړنو باید وپوهیږی، دغه ځانګړنی یو څه دویبپاڼو په برخه کی سپړل شوی او ځینی نوری هغه چی په یو نه یو ډول له ویبلاګ سره تړل کیږی په دا ډول دی.

### له غږ، انځور او میوزیک نه ګټنه واخلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

په بلاګ کې ځانګړې غږونه او موسيقي دبلاګ رابښکونډېروي، د مخاطبانو په ذهنونو کې يې ياد تلپاتې کوي، که چيرې تاسې په ويبلاګ کې له پرانستل کيدو سره سمه ( اې زما وطنه دلالونو خزاني زمـــ ستا هره دره کې دې دتورو ښـاني زما ) يا دازمونږ زيبا وطن. دغسې نوري ترانې يا ځانګړې موسيقي وي، د مخاطب په ذهن کې به ستاسې دبلاګ نوم ژوندي پاتې کيږي، دغه راز بې ساري نوي او په زړه پورې انځورونه او پيوندونه هم ستاسې د بلاګ اغيزه ډيروي.

## ښه راغلاست ،په مخه مو ښه

يو شمير ويبلاګونه همداچې پرانستل کيږي پر مخ يې د ښه راغلاست يا هر کلي جمله راځي، دغه راز کله چې بيرته ترل کيږي د مخه ښه توري راځي دا په مخاطبانو کې دبلاګ په اړه يو ډول رابښکون او باور زيږوي؛ او هغوی دې ته اړباسي چې په وار وار بلاګ ته سر ښکاره کړي دا هم په ياد ولرئ چې له بريده زيات دغسې ځيزونه ونه کاروئ؛ ځکه دا بيا دمخاطبانو لپاره يو ډول مزاحمت ګڼل کيږي، که تاسې پخپله له دغسې مزاحمتي کړيو سره مخامخ کيږئ، لومړنی غبرګون به مو دهغو بندول او ورپسې له سايټ نه تيښته وي.

## خپل ځان ور وپيژني

په بلاګونو کې دبلاګ د ليکوال پيژند ګلوي دوديزه مساله ده، دويبلاګ په ښي يا کيڼ اړخ کې خپله لنډ پيژند ګلوي او انځورونه پر ليکه کړئ، برښناليک او ګرځنده ټيليفون شميرې هم وليکئ دا له تاسې سره د مخاطبانو دپيژندګلوي او اړيکو په برخه کې مرستندوې تماميږي که چاپ شوي اثار او نوري لاسته راوړنې لرئ هغه هم پر ليکه کړئ.

## دبلاګ قالبونه ژرمه بدلوئ

دبلاګ لپاره له ذوق او سليقې سره سم قالب غوره کړئ؛ ستاسې لوستونکې ستاسې دبلاګ له مخپسولنې او چوکاټ سره روږدي کيږي، که چيرې دغه مخپسولنه او قالبونه ژر ژر بدلوئ دا به پر لوستونکو ښه اغيز ونه کړي.

په بلاګ کې درنګونو بې ځايه کارول دلوستونکې لپاره ستونزې پيښوي، په ځانګړې ډول به شا ځمکه کې تور رنګ مه کاروئ؛ ځکه په تور کې هر بل رنګ دلوستونکې سترګې ستومانوي، که رنګونه ساده او په ښه سليقه غوره شي دا به ښه وي.

## لنډ وليکئ او تبصرې کنترول کړئ

په ويب اوويبلاګ کې اوږدې ليکنې دچا نه خوښيږي؛ کوښښ وکړئ چې ليکنې مو لنډې او د تبصرو لپاره کړکۍ پرانيزئ، تبصرې پر وخت کنټرول کړئ او چا ته دا وخت مه ورکوئ چې ستاسې بلاګ دخپلو شخصي عقدو سپکاوي او يا هم غير اخلاقي چارو لپاره وکاروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که چیری انټرنیټ ته۱۲ ساعته یا ۲۴ ساعته لاسرسی نه لري او نیغی تبصری نه شی سمولای، دتبصرو کړکی مه پرانیزی کوښښ وکړی له لیکنی سره مو پر لومړي مخ تر اوو پوری تبصری پریږدی پاتی نوری یی بلی پاڼی ته لیږدولای شي.

## کوچني انځورونه وکاروی

کوچني انځورونه او نقشي تر سترو هغو ښه دي، که چیری ستاسی انځورنه لوی وی او دمخاطبانو د انټرنیټ چټکتیا کمه وی؛ هغوی په انځور کتلو کی له ستونزو سره مخامخ کیږی، تاسی باید وړ او په معیاری کچه انځور پورته کړی.

## توکی او انځورونه ژرمه کوزوی

دشونتیا تر بریده له بلاګ نه پخوانی ټوکی مه کوزوی، ستاسی لیدونکي کیدای شی دیوی مهمی موضوع په برخه کی ستاسی توکو ته اړتیا وومی، هغوی به خامخا ستاسی بلاګ ته سر ښکاره کوی، که په بلاګ کی مو توکی لری کړی وی؛ هغوی به سخت نهیلی شی هڅه وکړی دخپلو زیرمو شویو توکو لینګ پر لومړي مخ کیږدی.

# څه ډول لوستونکی موندلای شي

- داسی څه ولیکی چی دورځی مساله وی او یو نوی څیزوی.
- دخپلی اړوند ځانګړي سکالو په اړه بشپړ تمرین وکړی او ځان ښه پری پوه کړی.
- تاوده خبرونه او مهمی تودی پیښی ژرخپروی.
- داسی څه ولیکی چی په ۱۰ کالونو کی هم زاړه نه شي.
- په پیل کی یوازی پخپله ویبلاګ وچلوی، وروسته موډلی پراخه کړی او نور ته هم دا اسنتیا ورکړی چی بلاګ ته مو توکی پورته کړی.
- لوستونکی نورو ښو ویبلاګونو ته بوځی او له هغوی هم دا وغواړی چی دښو ویبلاګونو ادرسونه درکړی.
- دکورنی ژوند او مینی په اړه څه مه لیکی.
- له نورومشهورو ویبلاګ لیکوالو سره اړیکی ونیسی دهغوی په اړه څه ولیکی، دویبلاګونو لینګونه یی خپاره کړی؛ او له هغو هم همدغسی غوښتنه وکړی.
- نظر پوښتنی وکړی، او دبلاګ دکتونکو شمیر وګوری.
- له مشهورو ویبلاګ لیکوالو هنر مندانو او ..... سره مرکی وکړی.
- نیوکی وکړی او داړتیا پر مهال په مهمو کسانو لګیږی.
- بریښنالیکونه او وړ تبصرو ته ځواب ورکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- که څانګوال کسان یاست، روزنیزی دوری پیل کړی او لو ستونکو ته انلاین درس ورکړی.
- ویبلاګ اپډیټ وساتی او ځنډ مه پکی کوی.
- دخپل مسلک په اړه لیکني وکړی او ځانونه پکی مخکښانو کړی.
- په خپلو لیکنو کی ځان ښونه مه کوی، چی بیا دخلکو نه خوښیږی.
- نیوکی ومنی او وړکسان وستایی بیځایه غرور مه کوی.
- ځانونه استادان مه ګڼی، ځکه ستاسی ویبلاګونه ستر ستر استادان هم ګوری.
- دنوري نړی له لیکوالانو او ژورنالیستانو سره اړیکی ټینګی کړی او له هغوی نه یو څه واخلی.
- د ویبلاګ لیکوالو دټولنی غړی شی، که ټولنه نه وی جوړه یی کړی.
- اسلامی وملی ارزښتونه ته درناوی وکړی داسی څه مه لیک چی رنګه مو پری بده شی.

## د ټولنیزو ارتباطي وسایلو په وړاندې د ژورنالیزم په مسلک کې د بحران منځته راتګ:

بحران: بحران له هغه منفي او نه پیش بیني کیدونکو حالتونو څخه عبارت دی، چې په ناڅاپي ډول د فرد او جامعي په ژوند کې رامنځته کیږي، په اصل کې دمنافشي او قضاوت په معني دي؛ چې په اساسو لحظو کې د داسي تغیراتو رامنځته کیدونکي وي چې طرحه شوی اهداف له اصلي مسیر څخه ګرځوي. هغه بحرانونه چې پټ وي هغه بلقوه پیښیي دي، او هغه بحرانونه چې ښکاره دي؛ هغه بلفعل دي. په همدې ډول بحرانونه په طبعي ډول ( natural ) او ځیني وخت د انسانانو په وسیله ( manmade ) منځته راځي.

## د سیاسي، اجتماعي او اقتصادي بحرانونو ډولونه:

۱.د هویت بحران identity crisis: چې د پردیو یا بیګانګانو په واسطه د فرهنګیي او سیاسي ولکي او یرغل په پایله کې منځته راځي.

۲- د مشروعیت بحران legitimacy crisis: دغه بحران له یو داسي نظام څخه وروسته رامنځته کیږي، چې د خلکو د خوښی څخه پرته منځته راغلی وي.

۳- د مشارکت (ګډون) بحران crisis participation: دغه بحران په هیواد کې د نفاق (بې اتفاقي) د ملتونو ترمنځ د وحدت او یوالي د نه شتون په پایله کې رامنځته کیږي.

۴- د نفوذ بحران penetration crisis: کله چې د ملت خلک په سیاسی چارو کې په واکدارانو بې اعتماده شي دغه ډول بحران رامنځته کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵ - د توزیع بحران distribution: چې د قومي او طبقاتي بې عدالتي او استسمار په نتیجه کې په مختلفو شکلونو را منځته کیږي.

د هر نوعه بحران د له منځه وړلو لپاره د بحران له پیښېدو څخه مخکې منظمه او سیستماتیکه څارنه، تحلیل او څېړنه د بحران په له منځه وړلو کې کومک کوي.

له یادو شو بحرانو څخه هریو کولای شې چې ځینې اصلي امنیتي عوامل ولري.

## د امنیتي بحرانونو عوامل:

۱ - د انتخاب شو مسؤولینو ترمینځ د مناقشې پراختیا .

۲ - د دولت د اعتبار کمولای او د مخالفانو د اعتبار پراختیا اوزیاتوالی.

۳ - د مخالفانو د کړنو او اقداماتو زیاتوالی.

۴ - د دولت د پلویانو ناراضه کیدل او ناخوښي.

۵ - د قومي او ګروپی اختلافاتو پراختیا .

۶ - د تخریبي او ورانکاره فعالیتونو او پریکړو زیادت.

۷ - اعتصابونه او مظاهري.

۸ - له پولو څخه د باندې د بحرانونو وتل.

د دغو بحرانونو د مخنیوي لپاره که څه هم هغه ښکاره بحرانونه او یا پټ وي لازمي تدابیر په کار دي، هغه چې د ژورنالیزم په مسلک کې د یوه ژورنالیست روزمره کار دي، په ډیرو نورو مسلکونو کې هغو ته د بحران په سترګه کتل کیږي، ژورنالیستان تر آخریني ورځې د ژوند چې په دي مسلک کې په کار لګیا دي، هره ورځ له یوی داسې پیښې یا ستونزې سره مخ کیږي چې ورته نوی او ستونزمنه وي، چې د هغې په مقابل کې باید بې وخته هم تصمیم ونیولی شي، له هغه کلیمو او جملو څخه استفاده وکړي چې تر او سه یې نوي کارولې، وروستۍ نتیجې چې په ښکلي او ښایسته کلام سره په معین وخت او معین حجم کې وړاندي کړي، تر هغه وخته خپلی هڅې ګړندی وساتي ترڅو پدې مطمئن شي، چې همدغه مطلب؛ چې دده یو بل حریف په بله ورځپاڼه کې نشر کړی؛ د ده د هڅو او کوششونو له حاصل څخه بهتره ندی. دغه وضعې ته په نورو مسلکونو کې بحراني وضعه ویلای شوو ، مګر د ژونالیست لپاره دغه وضعه د ژورنالیست د هرې ورځې د ژوند سرنوشت دی.

## په ټولنیزو ارتباطي وسایلو کې کولای شو بحرانونه له څو وجهو ډلبندي کړو .

### الف: د بهرانونو د ماهیت له نظره:

۱ - طبعي بحرانونه: لکه سیل، زلزله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ - اقتصادي بحرانونه: لکه بيکاري.

۳ - اجتماعي بحرانونه: لکه مخدره مواد ، د ځوانانو مشکلات، مظاهري.

۴ - سياسی بحرانونه: لکه په سياسي چارو کې ناڅاپي بدلونونه، کودتا ، نظامي نښکوني.

ب: د طبعي تغيراتو له نظره:

۲ - لوی بحرانونه چې دطبعت په سطحه کې تغيرات راولي. لکه: سيل، زلزله

۲ - هغه بحرانونه چې د طبعت په سطحه کې ده هغه لپاره کوچني تغيرات کافي وي. لکه: په آرام ډول سياسي بحرانونه.

ج: له مخکې څخه دچمتوالی له نظره:

۱ - هغه بحرانونه چې له مخکې څخه هغه د انتظار وړ وي. لکه: هغه مظاهرې چې د هغه په اړه له مخکې څخه خبر ورکړل شوی وي.

۲ - د توقو خلاف بحرانون. لکه: سيل، زلزله او انفجار.

د : د بحران د عواملو له نظره:

۱ - د رسنيو د خوښې وړ عمده بحرانونه: هغه بحرانونه چې مشخص وکړی په مطبوعاتو کې ورګډوي.

۲ - غيري عمده بحرانونه: هغه بحرانونه چې اصلی مخاطبان يې رسنۍ نه وي.

ه: د مخاطبانو د غبرګون له نظره:

۱ - هغه بحرانونه چې ملی يوالی ايجادوي. لکه: جنګ، بهرنی تهديدونه.

۲ - هغه بحرانونه چې په ټولنه کې بيلابيل نظرونه او رايې وړاندې کوي. لکه: سياسی او اجتماعي بحرانونه.

## د بحران په بيلابيلو مراحلو کې د رسنيو دندې:

۱- د بحران څيړنه او سپړنه.

۲ - د وضعيت تثبيتول.

۳ - د اوضاع (حالت ) روښانه کول.

۴.د بيلابيلو مفکورو ترمنځ د تعادل (موازني ) ساتل.

۵ - د خيالونو او اميدونو اصلاح.

۶ - منځګړيتوب.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷ - د لوستونکو او اوریدنکو پیژندل.

۸ - د بحران په اړوند د خبرونو خپرول.

۹ - د خبر او اطلا په خپرولو کې د خپلواکې او عینت ساتل.

۱۰ - په موقع سره تحلیل، بیړه باید پکې ونه شي.

۱۱ - د مخاطبانو په ښه ډول رهبري کول.

۱۲ - د فتنو په وخت کې د فتنو د ضررونو څرګندول.

۱۳ - د فتنو د نمایش او ښکاره کولو څخه مخنیوی کول.

۱۴ - د مصاحبو په خپرولو کې زیات دقت او پاملرنه.

۱۵ - د منطقی پشنهادونو ارائه کول.

۱۷ - په مصاحبه کولو کې د ژورنالسیت ښه ابتکار او لاسته راوړني.

۱۸ - په ټولنه کې د خاصو ګروپونو او طبقو انتخابول.

۱۹ - د خلکو د پوهي او استعداد په نظر کې نیول.

۲۰ - د وروستیو معلوماتو او اطلاع په نظر کې نیول.

۲۱ - د تحریک کونکو اشخاصو څارنه.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**